

د قزل کلا بندر

۱۳۴۰
۱۰
1/1962

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005

د خوشال خان ناز

ښاغلی عبدالشکور رشاد

خوشال خان پر ز کندن وې ننګیالیو
سرو مال د پښتانه تر ننګه جار
یو ارمان را سره وړم تر تورو خاورو
چې می نه لید د پښتون د بڼ بهار
که خوشال په حسرت داغ زړه ځنی درومی
خدایه ته لره سمسور د قام ګلزار
دا یو ناز به د خوشال یوسی نیاز منو
په مرګ مه سه پښتانه غلیم ته خوار
که په ژوند کی می تر سره نه شوه هوډه
پسله مرګه می هورې جوړ کی مزار
چې په عمر پرې لوېدای نسی مېړونو
د مغل د آس د سوو ګرزو غبار «۱»

«۱» دا موضوع علامه اقبال په اردو کی هم راوړی ده.

ددې ګڼې مضامین

د بشر فکر	په	[ ]	مخ کی	د کندهار وړو کی په	[۱۷] مخ کی
د روښانیانو مجاهدې	«	[۲]	« «	عبدالحکیم شیدا «	[۱۹] « «
زما کتابخانی	«	[۵]	« «	د تاریخی واقعاتو.. «	[۲۱] « «
د مذکر جمع	«	[۸]	« «	تاج محل ته «	[۲۴] « «
په اسلام کی د...	«	[۱۱]	« «	ترجمال او حسن.. «	[۲۵] « «
زما لیکنه هم و...	«	[۱۲]	« «	والنتینا ګاګا... «	[۲۸] « «

مسئول چلوونکی
ا، م «کرزی»
اداره دشهیدانو واټ
[ددولتی مطبعې څنګ ته]

کندهار

میاشتنی خپرونه
ادبی. تاریخی. اجتماعی. علمی

کالنی «بیه»
په کندهار کښی [۲۸] افغانی
په دننه مملکت کښی [۳۲] «
په دباندنیو هیوادو کی یو ډالر

ګڼه [۱۰] لمریز کال ۱۳۴۰ د جدی [۲] دمیلادی کال ۱۹۶۱ ددسمبر [۲۳] پرله پسې ګڼه [۲۲]

د بشر فکر

له دې امله انسان و نورو مخلوقاتو ته ښاغلی دی چی د فکر اووینا خاوند دی. د فکر په څرنګه والی کی له پخوا زمانې څخه بیا تر اوسه پوری پوهانو ډېر څه ویلی دی خو په نتیجه کی دې خبری ته رانژدې شوی دی چی فکر د انسانی مغزو محصول او وظیفه ئې د مادی شیونو پېژندل او تجزیه کول دی، له دې څخه دا جوته شوه چی د فکر غایه د شیونو حقیقت موندل او د مادې پټ رازونه راڅرګندول دی وهمدې ټکی ته درسېدو په لار کی بشری فکر ډېر ربړونه لیدلی او ډېری ستونځی ئې ګاللی دی، دا چی کله، کله موږ د ولسونو د فکری سیر په مطالعه کی مدوجزر وینو د هغه علت دادی چی ځینو انسانانو د خود غرضۍ او منفعت پرستی یا د ډېر جهالت له امله د فکری سیر د تکامل مخه نیولی وه.

لېکن خدائی قانون او د طبیعت نه ماتېدونکی دود هغه خنډونه له منځه وړی دی چی د فکری سیر مخه ئې بندوله، موږ چی کله د ولسونو فکری سیر ته ګورو نو دا خبره راڅرګنده شی چی ډېرو اجتماعی محدودیتونو د بشری فکر د پرواز وزرونه تړلی وو او هر کله به ئې د فکری سیر د کاروان په لار کی یا اغزی پاشل یا به ئې د فکر پر حقیقت بینو لیمو خاوری پاشلی همدا رجه وه چی د انسانی ټولنو د ژوند په ګرچاپیر باندی د طلسماتو او خرافاتو توری اوریځی را خپرې شوی وی چی تر ډېرو پېړیو پوری، دې راز توری تیارې پرنړۍ حکم چلاوه اما د فکری سیر برېښنا د ازلی دود سره سم د اوریځو په زړو کی خپله لاروهله او د حقیقت ومزله ته ئې ځان رساوه. دا خبره د تل د پاره په یاد واری چی د فکری او اجتماعی نهضت میرڅمنو هر کله د تاریخی پېښو د جریان په ترڅ کی هڅی کړی دی چی د بشری فکر د ارتقا او د ولسونو د پرمختګ مخه ونیسی که څه هم د یوې لنډی مودې د پاره ذوی بریالی شوی دی چی د ټولنو یو ون پرځای و دروی اما د کاروان سیر ئې له خپلی لاری څخه اړولی نه دی. که چیری د انسانی ژوند د لومړنی مهال څخه د فکری سیر ورپرانیتی وای نو ډېر پخوا به لا د ژوندانه پېچلی مسئلې حل شوی وای او بشر به د یوه خوندور او په زړه پوری نیک مرغی په غېږ کی آرام پروت وای خو د منفعت پرستی او استثمار له امله چی بنسټ د ټولو اجتماعی بدبختیو دی د بشر دا هیله تر سره سوی نه ده او د حقیقت درسېدو په لار کی خوار کوټی فکر ډېر

[نور په ۱۴ مخ کی]

ښاغلی بینوا

د روښانیانو مجاهدې

[د تیری ګڼې پاته برخه]

پاتې کشمیری پدې الفاظو دده ستاینه کوی . د بایزید نه پس جلال الدین او چت مقام ته وخوت او د ېرزیات استقلال ئې وموند عادل او باضابطه سړی ؤ .

جلال الدین هم لکه د خپل پلار په شان د هندی مغلو د یرغل او تجاوز خلاف ملاوتړله د تیرا او نورو علاقو نه ئې شل زره پلی او پنځه زره سواره د یو لښکر په شکل راغونډ کړل پدې کی اکثر ځوانان افریدی، یوسفزی مومند او غوریاخیل ؤ . دوی اول په پېښور کی د مغلی حکومت په نیول کېدو پر سید حامد بخاری باندی حمله وکړه هغه ئې وواژه او بیا ئې د پښتنو د ملك نه د هند د مغلی قواؤ د ایستلو په کار لاس پوری کړ چی آخر په ۹۹٤ کی اکبر پاچا یو لوی او قوی لښکر د کنور مان سنګهه د کمان لاندی او د خواجه شمس الدین په مرسته د جلال الدین مقابلې ته ولېږه او هر څو د دښمن او یرغلګرو فوجی طاقت د ېرزیات ؤ خو سره ددې هم پښتنو د جلال الدین روښان په مشری د خیبر په دره کی له دوی سره سخته مقابله وکړه او یرغلګران ئې د ترخو مړغونو په شان پرې ایستل اکبر نور تازه ملاتړ ورته را ولېږه خو جلال الدین په ډېره مېړانه پوره یو کال د خپلی خاوری او آزادی دفاع جاری وساتله او یرغلګرو پری بری ونه موند په ۹۹۵ هـ کی اکبر پاچا یو ځل بیا د بنګښو په لار د پښتنو په خاوره حمله وکړه خو دا ځل بیا جلال الدین د پنځلسو زرو پلیو او یو زرو تنو سورو په مرسته ددې یرغل مقابله وکړه او سره ددې چی په دغه جنګ کی یو نیم زره تنه پښتانه ځوانان مړه شول خو بیا هم د دښمنانو لښکر د پښتنو په ایل کولو کی کامیابی حاصله نه کړای شوه دې نه پس جلال الدین هم لکه د خپل پلار په شان تیراته وخوت او هلته ئې ځای ونیو ده به د دغه ځای نه په دښمنانو حملې کولې چنانچه په ۹۹٦ هـ کی د صوات باجوړ په علاقه د پښتنو او د هند د مغلو د یرغلګرو لښکرو منځ کی سختی نښتی وشوې خو لکه چی د دښمن لښکری خوری شوی نو جلال الدین هم بیرته خپل تیرا ته راغی پدې ترتیب ترسنه یو زر پوری د جلال الدین روښان د دفاعی او د جلال الدین اکبر د یرغلګرو فوځونو منځ کی نښتی او جګړې جاری وې چی آخر جلال الدین اکبر په سنه یو زر کی بیا یو عظیم لښکر د جعفر بیګ، آصف خان او قاسم خان د مشری او کمان لاندی د جلال الدین د مقابلې د پاره وګماره خو دوی هم د زور او قوت په وسیله د هندی مغلو استعماری مقاصد مخ کښی بو نه تلی شول او له ې کبله ئې په ساز شونو او لالچونو لاس پوری کړ او دغی حربی ئې تاثیر هم وکړ . پښتانه په خپلو کی بې اتفاقه شول او غازی جلال الدین هغه جلال الدین چی د هندی مغلو لوی *

* طاقت ونه وهلی شو د پردو په لمسون په خپله د پښتنو دلاسه ووهل شو . دده دوه ورونه شیخ عمر او خیرالدین دلازا کو ووژل شو او بل ورور ئې نورالدین د دښمنانو په لمسون مومندو وواژه او له جلال آباد نه په دردمند زړه تیراته ستون شو او دغلته یو ځل بیا د خوشحال خټك دی شعر خپل مصداق وموند چی وائی :-

په بل غشی بل ټوپك ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا پخپل ټوپك یم

سره ددې هم چونکه جلال الدین ته د دښمن په مقابل کی لاس تر زنی کښېناستل او په ګناه ښکارېده نو میدان ئې پرې نښود او په سنه [۱۰۰۷ هـ] کی ئې د توری په زور غزنی د دښمن دلاسه آزاد کړ او دوه کاله ئې پر غزنی باندی مستقل حکومت وکړ چی آخر په ۱۰۰۹ کی یرغلګرو په لوی طاقت پری حمله وکړه او اوه ورځی خونړی جنګ جاری ؤ چی په آخر کی جلال الدین د یو سړی دلاسه چی ښادمان ئې نوم ؤ زخمی شو او د غزنی نه درباط غره خوانه په تلو مجبور شو ولی هلته د مراد بیګ نومی یو سړی دلاسه شهید شو سرئې د اکبر دربار ته راوړی شو . او د هند مغلی دربار پدې کامیابی ښاد نامی وږغولې خو د هغوی ښادنامی لا آخر ته نه وې رسېدلی چه د آزادی غوښتلو مشعل او د روښانیانو د کورنۍ د مبارزې بیرغ د جلال الدین زوم د میاروښان لمسی او د شیخ عمر زوی احداد اوچت کړ او د دښمنانو سترګی ئې وبرېښولې .

احداد د خپلو پلرونو ، نیکونو په لار قدم واخیست او د دښمنانو مقابلې ته ودرېد . خانی کشمیری د احداد په ستاینه کی هسی وایی :-

احداد یو عادل او با ضابطه انسان ؤ د خپلو ښاغلو او نمانځلو نیکونو په قاعده او قانون روان پاتی شو ، هر چا ته به ئې خپل حق رساوه او په جهاد کی چه به کوم مال واجه او غنیمت شو نو د هغه پنځمه برخه به ئې په بیت المال کی داخلوله او په غازیانو به ئې وېشله . هغه وخت چی احداد د یرغلګرو خلاف میدان ته راووت نو د اکبر پاچا وروستۍ او د هغه د زوی جهانګیر لومړۍ شپې ورځی وې .

احداد په سنه ۱۰۳۰ هـ کی ځان کابل ته راورساوه او د کابل په شاوخوا کلیوئې د یرغلګرو سره جنګونه وکړل .

دلوګر د څرخ په علاقه کی چی د احداد سره کوم جنګونه شوی دی جهانګیر پخپل کتاب کی د هغو یادونه پدې شان کوی :-

احداد پښتون چی له ډیری مودې راهیسی د کابل په غرنۍ سیمه کی په سرکشی او فتنو پیدا کولو بوخت دی د ډیر زیات پښتانه ئې په ځان راټول کړیدی زما د لوی پلار اکبر له وختونه تر اوسه پوری چی زما د تخت نشینی لسم کال دی دده د مقابلې د پاره همېشه پوځونه مقرر او تعین پاتی شویدی . » د احداد او جهانګیر منځ کی یو خونړی جنګ داسی هم شویدی چی پکښی درې زره پښتانه ځوانان د خپلی آزادی په لار کی شهیدان شول .

د هند د مغلو په یرغلګرو پوځونو باندی د احداد د حملو سلسله تر ۱۰۳۵ هـ پوری اوږده او جاری پاتی شوه ولی په همدغه کال د [نواغر][اواغر] په علاقه کی د یو جنګ په میدان شهید شو وائی چه کله دی شهید شو نو د

دښمن پوځیان دده کوټ ته ننوتل او هلته ئې ولیدل چې د یوې پېغلې نجلۍ ته پرته بل یو کس هم د احداد په ملګرو کې ژوندی نه ؤ پاتې او دغې پېغلې نجلۍ هم چې څه وخت اجنبي سپاهیان ولیدل نو ځان ئې د کوټ د برج په کښته راګوزار کړ او داسې ئې د غلامۍ په ژوندون باندې د پاکۍ او عزت مرګ غوره کړ او دائې هم دښمن ته وښودل چې د پښتنو په خاوره چې یوه نجلۍ هم پاتې وي نو غلامۍ ته به غاړه پسته نکړي.

د منتخب اللباب نومې کتاب خاوند لیکي چې:-

کوم وخت چې د احداد سر د جهانګیر دربار ته یووړی شو نو هغه یو لوی جشن جوړ کړ او خپلو پوځونو ته ئې مبارکي ورکړه.

د احداد په مرګ هم د روښانیانو تحریک ختم نشو او د احداد نه پس د هغه زوی عبدالقادر د آزادۍ بیرغ پورته کړ. ده په ۱۰۳۷ هـ کې د تیرا په خرمانه کې د مغلو په ظفرخان صوبه دار حمله وکړه، ډېر مغلیان ووژلی شول او مالونه ئې پښتنو ته په غنیمت کې ورسېدل. د عبدالقادر حملې تر ۱۰۴۴ هـ پورې جاري وې او د هغو نه پس په یوه ځنګل زاره علاقه کې د سعید خان مغلي صوبه دار له طرفه ونیوی شو د شاهنشاه دربار ته ولېږل شو او شاهنشاه هم دې فرار کړ چه آخر په ۱۰۴۶ هـ کې په پېښور کې وفات شو.

د عبدالقادر د وفات نه پس د میا روښان لمسی او د جلال الدین زوی الله داد ملا وتړله او د خپلو پلرونو او نیکو په شان ئې د یرغل ګرو په خلاف میدان ته ودنګل. صمصام الدوله په ماثرالامر نومې کتاب کې دده په حق کې لیکلي چې:-

الله داد یو زړور او پټ من سړی ؤ دی په نیک فکر راستی او د اخلاقو په پاکۍ کې بې جوړی ؤ هر څوک دده اخلاص مند او فدایان ؤ چې آخر شاهنشاه په دکن کې دده د تاثیر خورېدونه وبېرېد.

دده زوی او ورور لا د جهانګیر د پادشاهۍ په موده کې د ګوالیار په کلا کې بندیان ؤ چې آخر دی هم د هندي مغلو د دربار د اجنټیانو په لاس کښېوت او جهانګیر په شړونتیا محکوم کړ. دی د شاهنشاه په وخت کې په ۱۰۵۸ هـ کال کې په دکن کې وفات شو. د جلال الدین بل زوی کریمداد هم د هندي مغلو د امپراتورۍ خلاف ودرېد او ډېر جنګونه ئې وکړل چې آخر د خزانو خورولو په زور یرغل ګر پدې کامیاب شول چې دی ونیسي. کریمداد د شاهنشاه په حکم په ۱۰۴۷ هـ کې ووژلی شو او دده په مرګ د روښانیانو د کورنۍ وروستی څراغ هم مړ شو.

داؤ د یوې پښتنې کورنۍ سرګذشت او ماجرا د هند د مغلي امپراتورۍ په دور کې. اوس کیرو پرنګي او د هغه هم خیال خلک دا اندازه لګولی شي چه د هند د مغلي حکومت د یرغلونو متعلق په دغه زمانه کې د پښتنو خیالات او جذبات څه ؤ؟؟؟ [پای]

ښاغلی نومیالی

زما کتابخانې

زما هره کتابخانه له لومړی سره څخه بیا تر اوسه پوری په داسی ترتیب راغلی ده چه شل یا پنځه ویشت پنډاو نری کتابونه دی چی یو څه ئې په زاړه زنګ وهلی بکس کی یو پر بل باندی بېډوله پراته او یو څه ئې تاشی پتاشی تر دوړو لاندی دخونی په تاخچه کی زما د مطالعې انتظار کوی . هر وخت زما دهری کتابخانې وضعیت دغسی دی او د آینده د پاره هم داهیله راپکښی وژل سوې ده چه زه دی د یوې داسی کتابخانې خاوند سم چه فیشنی خلګ ئې خپل ترمنځ (لابریری) بولی . لیکن زما کتابخانه چی زما په خیال یوه خوبائی لری هغه داده چی پر یوه قرار نه ده پاته سوی، بلکه زما د تحول له دورو سره ئې سم تغیر کړی دی او زما د ژوند په بېلو، بېلو فاصلو کی څو واره په خپلو محتویاتو کی الیشه سوی ده . څرنګه چی زما دهری دوری کتابخانې د هغی بلی دورې له کتابخانې څخه د کتابو د ماهیت له پلوه ښه ډېر فرق کړی دی نو ځکه زه ویلای سم چی ما د خپل ژوند په تاریخ کی یو شمېر کتابخانې درلـــوولی دی .

زما لومړی کتابخانه چی زما د پلار په روپورانه سرښته سوی وه په هغې کی د لمانځه، او داسه، عقایدو او داسی نور کتابونه وه چی ما ته ئې تر هر څه د مخه د آخرت د عذابو نو هولناکه منظرې ذونه رانژدې کړی وې چی د کوچنی والی د بازیو ډک زړه ئې د ګروم په شکنجه کی راساتلی وو او د طفولیت په لاابالی دنیا کی ئې دا ډول حساس کړی وم چی د آخرت له زحمتو څخه د خلاصېدو د پاره می په تپ معصومیت کی دورځی او د شپې عبادتونه کول او د دې د پاره چی ایمان می د شیطان له زواله څخه په امان سی نو د زهد و تولو خواؤته می لاس اچولی وو .

څو زما نه وروسته نه یم خبر چی زما ځان ئې علت وبولم او که زما جهان، خو په هر صورت دا لومړی کتابخانه می په یوه بله کتابخانـــه الیشه کړه . د لومړی کتابخانې کتابونه می په نیمه یا په پوره بیعه خرڅ کړه او په عوض کی می د کیمیا-ګری، یونانی طبابت، رمل جفر او تعویذاتو نـــوی او زاړه کتابونه ولاس ته راوسته او دوهمه کتابخانه می تیاره کړه . لکه څنګه چی زما مفلسی د دې باعث وه چی و کیمیاګری ته لاس واچوم دغه رنګه د دې باعث هم سوه چی په دغه لومړی سر کی لاس ځنی واخلم ځکه د هیڅ نسخې د جوړېدو د پاره مې مالی توان نه درلودی .

په یونانی طبابت کی چی می بیا لیده چی دهـــری دوا د مضر خاصیت د مـــخ نیوی د پاره یو مصلحه دوا هم ورسره ګډیږی او هره مصلحه دوا بیا خپل مضر خاصیت هم لری نو زه د یوې نسخې د عملیې په نتیجه کی نه پوهېدم چی آیا دا مصلح او مضر ته که تر پایه ادامه ور کول سی نو څوک کامیابه کېدلای سی

چې په خپل ټول عمر کې یوه نسخه تیاره کړی او که ئې تیاره هم کړی هغه به د صحت د پاره مضره وی نو ځکه له دې مضر طبابته څخه هم زما خوا توره سوه .

درمل، جفر تعویذاتو او اورادو ډېرو تمرینو چې زما ماغزه خراب نکړه نو د لومړۍ او اوسترۍ ترمنځ ئې ما هیڅ واقعی فرق ونه لیدی .

له دې جمله خبری ئې وبولی چې زما دوهمه کتابخانه ئې هم تکانی کړه . د دې کتابخانې کتابونه مې هم داسې په یو څوورځو کې له بکسو راووتله او له تاخچو راکښته سوه او په لږ یا په ډېره بیعه پر خپله خوا ولاړه .

ماته چې د خلکو ترمنځ غنمنوی تعصبونه او عداوتونه داسې معلومېده چې د بې غوری او ناپوهی څخه راپاڅېدلی دی او د طبیعی ژوند خوشاله او پراخه دنیا مو د غنمنوی ژوند په غمجنه او تنګه دنیا له لاسه ور کړی ده نو په دې سلسله کې د اسلامی فرقو ترمنځ ماته د تحقیق قضاوت او تطبیق اشتهارا ولاړه سوه . څرنګه چې زه هر کله د خپلی محدودی کتابخانې پر الیشو او غښتلی وم نو په لږ ورځی کې مې له هغو کتابو څخه دریمه کتابخانه تیاره کړه چې د اسلامی باچهیو په برم کې به ئې ښائی ډېر سیاسی اهمیت درلودی . څه سرمو پر له ګرزوم و یونانی فلسفو ته زما لارو روو تله او اندر په یو لږ موده کې زما کتاب-خانه د یونانی فلسفو او منطقو کتابو پر سر واخیسته . د دې کتابو د ویلو او ځان په پوهولو ستړیاوی مې تر اوسه پوری لا له زړه څخه نه دی وتلی . خیر ډېر پکښې ستړی سوم اما زما لار ئې وداسې خواته نه وایسته چې زما قناعت تامین کړی .

له داسې چا سره به مخامخ کېدم چې هغو به هر کله راته ویل چې تا خو ګرده زاړه شیان ویلی او کتلی دی مګر اوس په امریکا او یورپ کې داسې فلسفی علوم و منځ ته راغلی دی چې د دنیا سرنوشت ئې ډېر په مثبت ډول سره تاکلی دی . د امریکائی او یو روپی مدنیت صنعتی مظاهرو زما وزړه ته راتېرو له چې دا به رشتیاوی نو د داسې خبرو تر اثر لاندی زما و دې ته مخ سو چې د احضار الارواح او نورو داسې شیانو هغه اصول ملاحظه کړم چې خلک ئې نوی اکتشافات بولی . بدې سبب چې موږ ته خو عادی کتابونه هم په آسانه په لاس نه راځی و داسې کتابونه خو بیا بیخی په مشکله پیدا کیږی چې د موضوع مازی نوم ئې لاچانه وی اروېدلی . په هر صورت هغه عشق او مینه چې ما د خپل ذوق له پاللو سره درلوده نو د دې باعث هم سوه چې د داسې موضو-عاتو کتابونه څو جلده په لاس راسی او خپله بله کتابخانه پر جوړه کم . دا د امریکا او اروپا د صنعتی عصر روحانی خرافات چې تر هر څه ئې سیاسی جنبه زیاته را معلومیږی، و مې کتل، و مې ویل او عملی مې کړه خو په نتیجه کې په ورسېدم چې زما د دې کتابو او د دمخنیو کتابو ترمنځ که څه فرق وی نو هغه په ژبو کې دی نه په ماهیت کې . که څه هم د بلی کتابخانې د پاره مې لا مفکوره نه وه پیدا کړی خو د صنعتی عصر د سیاسی او هامو کتابونه چې د علم پالشونه

در کول سوی دی، دهر را باندی وغمېده او غوښتې می چې خورا زرئې پر بازار کړم . څرنګه چې د بازار ذوق لا ودې اروپائی سویې نه نه دی راوسېدلی او بدې سبب دا کتابونه خریدار هم نلری نو ځکه چېرا زموږ په کور کی راپانه سوه .

کله می خیال سی چې کشکی می یوه رساله کښلی وای او په هغه کی زما د تیرو کتابخانو پر محتویاتو باندی په تفصیل سره زغېدلی وای او اندیوالانو نه می نکل کړی وای چې دغه لاری په مخه مداخلې چې دا پخوا زه پرتللی وم ځکه دیو نارمل انسان دپاره پرته له ستړیا او سرګردانیو څخه بله واقعی نتیجه نلری . کله بیا ملتفت سم چې د زمانې سیر بخپله اوس د پرهنبه دی او که سړی بخپله باطنی او خارجی دنیا کی په څه ویشتلی دی او غواړی چې له خطا څخه ځان په امان وساتی نو د انسانی نړۍ موجوده شرائط بخپله ددې بوهنی تلقین کوی چې د خالی خیالیانو او تصوراتو پر بنا چې زه سوی کتابونه پدې نه ارزی چې یا وویل سی او یا وسائل سی .

ستاسی په نو سودا بنده وی چې زه اوس کومه کتابخانه لرم او که یا ؟

هو کې! زه ترهغه وروسته د بلی کتابخانې هم نښتن سوم او دا کتابخانه می هغه کتابخانه وبولی چې ښائی په بله به الیشه نه سی اما ممکنه ده چې د پر انکشاف په وکړی . ددې کتاب خانې په کتابو کی ماته ژوند او له ژوندنه زیږېدلی سلسلې په پخوانی، اوسنی او راتلونکی چریان کی ترزیاته حده روښانه سوی دی . دا کتابخانه که بل څوك را پېځایه نکړی خوزه بلئې هم دځان اوهم دراپسې نسل دپاره په ښه توګه سره وساتم .

په دې سبب چې هغه د روحی خرافاتو کتابونه هم زموږ کره پرانه دی اوزه یو جلا ځای هم نلرم چې هلته ئې زما له نوی کتابخانې څخه جلا وساتم نو ځکه دا بولوی مشکل وبولی خو اوس دستی په دستی می ددې مشکل چاره په دې کړیده چې ما د تیرو کتابو او کتابخانو په مقابل کی د خپلو منفی تأثراتو د اظهار ولو په غرض دا یو مختصره یادونه د روحی خرافاتو د کتابو پر بلا ګردان باندی کښلی ده چې په عین حال کی دوی هم په ښائی سویدی او په هغه نوو کتابو می نه کډېږی .

یادونه: « په عجبه چې نړۍ کی راپاڅېدلی یو . لومړی خو مو عمر ډېر کم دی . هغه بیاهم دوې برخې په ناچوری خوب او خورك کی تیریږی . د طفولیت یوه اوزده دوره هم برخه پکښې لری . کومه لږ حصه چې راپاتیږی په هغه کی بیا له دونه ډول ډول اوزیاتو چټیاتو سره مخامخ کېږو چې یو پلاورته ملتفت کېدل یو کم کار نه دی او بیا ځان ځنی سائل یوه کوچنی خبره نه ده او بیا تنقید پر کول یوه ساده موضوع نه ده او له ما بینه ایستل خوښې لا یوه بله اوزده مجادله کښل کېږی » .

ښاغلی «پاڼینو»

کره کتنه

(د مذکر جمع)

د کابل مجلې په سږ نۍ اوومه ګڼه کی می [د مذکر جمع] په نامه د ښاغلی عبدالله بختانی یوه لیکنه تر ستر ګو سوه، او لیکونکی ئې تر نوموړی نامه د مخه یوه داسی لنډه یادونه کړېده چی: د کابل مجلې اداري له ده څخه غوښتی وه چی د مذکر جمع شرح کړی.

اوس به نو واردواره د ښاغلی بختانی لیکنه په لنډ ډول سره وکتل سی او بیا به تر یوې مختصری مقایسې وروسته د ښاغلو لوستونکو توجه د پښتو په ګرامر کی و یوه نوی مړه کېدونکی خصوصیت ته ور واړول سی.

* * *

[د مذکر جمع] د عنوان لیدنی او بیا د لیکونکی یادونی ئې زه هېښ پېښ کښېنولم او داسی پوښتنه را ته پیدا سوه چی: د کابل مجلې اداره د مذکر له جمعی سره څه مینه او علاقه لری؟ یعنی کابل خو د پښتو ټولنی یوه پښتو خپرونه ده مګر د مذکر جمع بیا په عربی کی یو عجیبه او دلچسپه موضوع ده چی له پښتو سره څه دونی اړیکی نه لری.

کله چی می د مضمونه محتویات ولیدل که می کتل چی عنوان ئې یو څه وائی او مضمون ئې نور څه یعنی د عربی د مذکر جمع نه وه پکښی بیان سوې بلکه د پښتو د مذکرو مفردو نومو او صفتو جمعی راوړل سوی وې، چی باید عنوان له موضوع سره د مطابقت په صورت کی داسی وای: [د مفردو مذکرو نومو او صفاتو جمعی].

۱،۱: د [مفرد] قید می ځکه ور باندی کښېښوویء چی پښتو جمع نومونه هم لری، لکه:- ولس، ټل، ګډی .... چی لیکونکی په خپله لیکنه کی نه دی راوړی.

۱،۲: دغه جمع کړه سوی نومونه او صفتونه می د [پښتو] په ذکر سره ځکه حصر نه کړه چی لیکونکی عربی کلمات هم جمع کړېدی.

۱،۳: د [مذکر] قید چی لیکونکی راوړېدی په نومو او صفاتو کی له مؤنثه څخه تمیز او بېلو نه کوی.

۱،٤: لیکونکی د [مذکر] قید بېله مقیده څخه راوړېدی او دغه داسی اشتباه پېښوی، چی ته به وایې لیکونکی پخپله د [مذکر] کلمه جمع کوی. نو د دغی اشتباه د رفعی له پاره د مقیدو [نومو او صفتو] ذکر لازمی ګڼل کېږی.

۱،۵: د [جمع] کلمه می په عنوان کی ځکه جمع کړله [جمعی] چی مبتداء ئې جمع ده او مبتداء می بیا ځکه جمع کړېده، چی د یوې واحدی کلمی جمع مقصد نه

بلکه په مضمونه کې ډېر کلمات جمع کیږي.

۲: داچې د دغې مقالې د لیکنې غایه به څه وه، زه پوره نه په پوهېږم او په دغه سبب سره نو ماته ځینې داسې پوښتنې را پیدا کیږي چې:-

۱: آیا د پښتو دغه برخه نیمګړې وه څوک نه برې پوهېدل او بشپړتیائې غوښته؟

۲: آیا د ننني ژبپوهنې پر اساس باندې ئې کته ګورې کونه او برابرونه مقصد وه؟

۳: آیا له دغې لیکنې څخه مراد داؤ چې لوستونکی دی د نومو او صفتو په جمع کولو کې له لهجوي توپیره څخه خبر سي؟

٤: آیا په دغه مضمونه کې د نوموړو کلماتو د جمعې پر تاریخي سیر باندې بحث مقصد ؤ؟ او که.

٥: آیا د مجلې له پاره صرف د یوه ګرامري مضمون تهیه کونګ مرادؤ؟

۱،۲: داچې په پښتو کې د کلماتو د جمع کولو برخه نیمګړې ده که نه ده؟ خو د مجلې خپرونې ئې دغه نیمګړتیا هیڅ نه ده ور بشپړه کړې او کمه بشپړتیا چې ئې درلوده هغه ئې لاهم پر درولې ده. که ښاغلی لوستونکی د ښاغلی رښتین ګرامر چې د برلس کاله ترمخ ئې چاپ کړیدی، دغه د جمعې برخه ئې د ښاغلی بختانې له سبزنۍ لیکنې سره مقایسه کړی نو به ئې د نیمګړتیا او بشپړتیا په توپیر ښه تر او پوهیږي.

۲،۲: که ووایو چې داوسنۍ ژبپوهنې له اصولو سره دی مطابق په کلماتو کې سمه وېشنه سوی وی خو هیڅ نه لیدله کیږي کمی کته ګورۍ چې جوړ سوی دی لومړی په خپله ناقصی دی، مثلاً: مېږي، بختاني، کابلي... یا ستوري، غلي، سپي، کتونکي، شړلي... داسې کلمات دی چې نه معنوي کته ګورې جوړوي او نه لفظي. که چیرې دغه کته ګورۍ د وروستنۍ ملینه [ی] پر اساس باندې وي، نو په دغه صورت کې خو د پښتو یوه لویه سلسله کلمې پکښې راتلای سي او که د جمعې د [یان یا ان] پر اساس وي خو بیا داسې نور کلمات هم ورګډیږي چې په وروسته کې ملینه [ي] نه لري او نه د تولو پورتنیو کلمو [ی] ملینه ده.

یوه بله یادونه چې باید وسي هغه داده: په ځینو کته ګوریو کې دوني مثالونه ور کړه سویدي چې شمېر ئې بیخي و [ویشتو] ته رسیږي مګر په ځینو نورو کته ګوریو کې بیا دغه شمېر تش پر دوو یا درو مثالو باندې درول سوی دی، چې دغه پېښه پخپله د کته ګوریو پر ماهیت باندې ډېره اغیزه لري.

دریمه یادونه ئې داده چې د مضمونه تر اصلي کته ګوریو ئې نوتونه او تر نوتوئې فوټ نوتونه اوښتي دي یعنې تر اصلي برخو ئې مستثنا برخې ډېري دي.

۳،۲: کشکې خو د مفردو کلمو پر جمعو باندې داسې بحث سوی وای چې لهجوي توپیرونه ئې ښوولای او د دغه کار سرته رسونې به یوازې د توپیر ښکاره کولو په نسبت اهمیت نه درلودای بلکه د هر ځای د لهجې له پاره ئې یو تاریخي ریکارډ هم جوړاوه لکه ښاغلی روهي چې پر دغسې توپیر باندې د پکنیا له دوو لهجو څخه بحث کړی دی.

ارس هم ځینې لهجوي جمعې

راوړل سویدی مګر وموږ ته دا نه راښیي چې دغه په چاپوري اړه لري او نش دوني ورسره ذکر سویدي چې په اکثرو محاورو کې، او یا ځنیې قبایل ئې بیا داسې [...] وایي.

د دغو لهجوي توپیرو په سلسله کې داسې هم پېښه سوېده چې ځینې کلمې د خپل هر لهجوي شکل جمعي لري، لکه: خپور، خپاره. سپور، سپاره. پسه، پسونه ... دغه دوهمه پلا بیا پسه بله کته ګوري کې د خور، خواره. سور، سواره. پسه، پسان ... په توګه هم راوړل سویدي.

چیري بیا داسې پېښه سوې وي چې اصلي عمومي او منلي جمعي وفوټ نوټ یا ونوټ ته غور ځول سوي وي او پر ځای ئې محلي یا پخوانۍ جمعي راوستل سوي وي، لکه: مرغه، مرغونه. شپون، شپانه. پسه، پسان. تی، تیونه. ځی، ځې، ځیونه. چې چې، چیونه. شکون، شکانه ...

۳، ۵: ... ؟؟؟

٤: اوس به ځینې نور صرفي حالات لکه: مفرد منحرف حالت او جمع منحرف حالت وګورو.

ښاغلي بختاني پدې باره کې داسې کښلي دي چې: «ځینې نومونه د تغییر کوونکو عواملو په اثر، په پاسنۍ صورت سره تغییر کوي او د همدغه جمع شکل غوره کوي د جمع په حالت کښې ئې بیا په آخره کښې [ونه] راځي.

مفرد	د جمع په شکل تغییر سوي صورت	په جمله کښې	جمع
پتلون	پتلانه	د پتلانه په جیب کې مې لاس واهه	پتلونونه
نوم	نامه	د خدای په «نامه»	نومونه
زنګون	زنګانه	تر «زنګانه» پوري عورت دی	رنګونه... تر پایه» *

* له «تغییر کوونکو عواملو» څخه د لیکونکي مقصد دغه نه دي چې عوامل تغییر کوي، بلکه له موضوع او قراینو څخه داسې ښکاریږي چې د نوموړي مطلب له «تغییروونکو عواملو» څخه دي، چې ونورو ته تغییر ور کوي.

بل دا چې «د جمع په شکل تغییر شوي صورت» داسې اشتباه پېښوي چې: تناره، نامه، زنګانه.. کلمات جمع دي مګر مطلب داسې نه دي، ولې چې دغه کلمات مفرد دي نه جمع او د لیکونکي مقصد به داوي چې: «مفرد د جمعي په څېر» خو داسې حکم کونګ هم بېله څېړنې څخه نه ښایېږي، ولې په اسانۍ سره نه سو پوهېدلای چې مفرد به د جمعي په څېر وي او که جمع د مفرد په څېر؟ او یا خو به دواړه سره موازي وي، لکه په دغو لاندنیو مثالو کې.

الف: هغه کته ګوري چې منحرف مفرد او جمع کټ مټ سره یوشاني وي.

مفرد	منحرف مفرد	جمع	منحرف جمع
خوږ	خواږه	خواږه	خوږو
زوړ	زاړه	زاړه	زړو
سپور	سپاره	سپاره	سپرو

ب: په دغه کته ګوري کې بیا منحرف مفرد او جمع د ډېر توپیر ځله لري. «نور په ۱٤ مخکې»

ښاغلی غلام محی الدین
ایوبی

په اسلام کی د ښځو حقوق

اسلام داسی جامع آئین او کامل دین دی چی دهغه قوانین بالکل پر عدالت، مساوات او دیموکراسی بنادی. موږ فعلاً صرف د اسلام د نقطهٔ نظره د ښځو پر حقوقو څه ږغېږو.

د اسلام تر ظهور د مخه په خپله په عربستان کی دا قاعده وه چی خپلی لوڼی به ئې ژوندی ښخولې، که څه هم لور اولاد بلل کېږی نو آیا څنګه کېدای سی چی تر هغه دی انسان تېر سی لېکن په رشتیا او تحقیق سره بدوی او وحشی عربو د ښځو څخه ډېر بد وړل، له یوې خوا ئې ژوندی په قبر کی ایښوولې، د بلی خوا ئې د بشری نوعی دغه د لطیف جنس ټولنه داسی استعمالوله لکه حیوانات. یعنی د حیوانانو په څېر ئې ښځی رانیولې او خرڅولې او د حیوانانو په جمله کی حساب وې.

لېکن د اسلام د عالی او مقدس اسمانی دین بهترینو قوانینو د بشر د دې عاجزی او مظلومی طائفې (ښځو) حقوق وساتل او په هغه جاهل محیط او وحشی عربو کی اسلام داسی عدالت خپور کی چی ښځی او نر به یو ځای مسجد ته راتلل، د خپل خالق په حضور کی به ئې عبادت کاوه.

اسلام ټوله بشر ته دا درس ور کی چی نر او ښځی دواړه د یو او بل ملاتړ دی یعنی د دوی ژوند سره لازم او ملزوم دی.

پخوا چی بشر پر یوه مخ د دې بېچاره ډلی حقوق غصبول اسلام داسی قوانین ورته وضع کړه چی که په هره زمانه کی هغه تطبیق سی دا ډله د ترقی و خواته بیایی، د مثال په ډول پخوا ښځو هیڅ حق نه درلود چی د پلار مېړه او یا خپلوانو تر مرګ وروسته میراث یوسی بلکه ښځی پخپله په میراث وړلی کېدلې، لېکن د اسلام دین دې اصل ته د نفرت په سترګه و کتل او د ښځو حقوق ئې نسبت و نارینه ته نیمی و باله یعنی دوې حصې د نارینه یوه حصه د ښځی.

د اسلام دغه پورتنی وېش چی ښځه نیمی تر نارینه حق لری ډېر ښه عدالت دی چی زیاتره حقوق پوهان ورته تسلیم او بالکل ئې درست ګڼلی دی دلته د دې حاجت نه وینم چی پر دې نقطه باندی اضافه تشریحات ور کم.

اسلام د ازدواج په مسئله کی ښځی ته واک او اختیار ور کړی دی چی دواده مهر ئې هم پخپله د دې دی د بل چا اړه ؤ غرض پکښی نسته، کونډه په اسلام کی د ځان پوره واک لری که کښېنی او که مېړه کوی؛ په تجارتی مسائلو کی ښځه د خپل مال او ملک اختیار لری ...

دغه رنګه چی مېړه پر خپله ښځه حقوق لری ښځه هم پر خپل مېړه باندی حقوق لری او د دوی دواړو تر منځ ځینی قوانین

موجود دی چې که یو پر بل باندې نېږی و کړی اسلام دوامدو نه جزا ایښې ده، ټول قوانین چې اسلام د نارینه ؤ د پاره وضع کړیدی هغه پر ښځو باندې هم تطبیق کېږی [مګر په ځینو ځایو کې په لږ تغیر سره] پنځه بناوی د اسلام چې پر نارینه ؤ باندې دهغه اجرا کول فرض دی ښځې هم پدغه فرضیت کې شاملې دی، د علم حصول پر نر او ښځه باندې فرض دی .

دا چې نارینه به علم حاصلوی او دا ضرورت ئې ورته لیدل سویدی نو ښځې هم پدغه ډول ضرورت ورته لری مثلاً ددې د پاره چې ښځه اولادونه ښه تربیه او وروزی او نور د کورنۍ انتظام او سمې اداري ترعهده ښه ترا وونلای سی که یوهنه ونه لری نو څنګه به دا کار په صحیح ډول تر سره کېږی؟ د دینی علم تحصیل خو ئې لمړنی فرض دی که دا فرض پرځای نه سی نو په دنیا او آخرت کې ئې مور او پلار او نور مشران مسئول دی .

د ښځو ډېرښه او عالی صفات پاکی او عصمت او حیاده دا ئې ترټولو ښه زینت دی چې ښځه کمال، اخلاق، صداقت، پاکوالی، حیا او شرافت ولری .

زما لیکنه هم ولولئ!

پالوال

دښاغلی افق پر خبرو خو مې غوږ ونه نیولای سوای او څه چې ئې لیکلی وه هغه مې واوستل . سبك ئې ډېر حاکمانه ؤ ، له لومړنی خط به څخه بیا د لیکنې تر آخره پوری داسې ایسېدیء چې له یوې اوږدې څخه دی پر کښې تو باندې په خورا فوقیت را شروع سوی وی .

په هره نوکه خوزه ئې د لیکنې له نورو او خو سره څه اړه نه لرم مګر چیری چې ئې په ژبپوهنه کې مداخله کړې او د [کښې] کلمه ئې ترملا نیولې ده نو دغه یو څو خبری باندې ور کاږم .

په نیرو ګنو کې ښاغلی نو هیالی او بیا ښاغلی هاتف پر [کې] [کښې] [سول] [شول] او نورو داسو موضوعاتو باندې لیکنې کړیدی. دوی د ښاغلی لاروی په برخلاف [کو] او [سول] پر [کښې] او [شول] باندې سم او درست بللی یا په حق ورته قایل سویدی. تر دوی وروسته ښاغلی پانیپنو را ولاړ او عین موضوع ئې په تاریخی او د ژبپوهنې په اسناد و سره وکښله . مګر چیری چې ښاغلی افق اشتباه کړیده هغه د پانیپنو په مضمونه کې د [کې] او [کښې] په بیان نه دی؟ پرهېدلی او ښائی چې هغه لیکنه دی ئې سمه لوستلې نه وی . ولی چیری چې ښاغلی پانیپنو د « کې » او « کښې » تر منځ توپیر په مقایسوی، اشتقاقی او تاریخی دلایلو سره ښیی، هوري په لومړی سر کې داسې کاږی چې که د التباس موضوع اهمیت ولری او څوك په درنه سترګه ورته ګوری یعنی که د هغه « کې » چې د « کول » له

مصدر څخه دی او د هغه «کې» چې د «کښې» په معنا دی ترمنځ والتباس ته ګوته نیول کیږی، نو د «کښې» او «کې» ترمنځ توپیر د ژبې یوه واقعي پېښه ده چې موږ ئې هر چیری درك کولای سو او و «کښې» ته هم «ښې» د التباس د رفع له پاره وراضافه کړه سوې نه بلکه دغه توری یا ږوغ PHONEME د کلمې خپل اصلي جزء دی خو اوس په هغو عواملو سره چې ژبه تحول پکښې کوی له منځه لوېدلی دی.

د دغه التباسي شرط معنا داوه چې که چیری اهمیت ورکول کیږی نو دغه دلایل په هر زمان او مکان کې تر ډیری اندازې پوری کفایت کوی. مګر که چیری بیا والتباس ته اهمیت نه ورکول کیږی نو په هغه صورت کې خو ضرور «کې» و منځ ته راځی چې ښاغلی پاڼینو هم وار دواره اشاره ورته کړې او خاص ئې د دغه مقصد له پاره خپله لیکنه مشروطه کړېده.

ښاغلی افق یو ځای داسې کاږی: «نو که په دغه (په دغو) شرایطو کې نور پر وږغیږو ګوا کې داسې غړ که شاربو چې هیڅ کوچې نه کوی».

ما خو د ده په لیکنه کې هیڅ شرایط نه دی لیدلی او نه پوهېږم چې «دغه شرایط» و کومو شرایطو ته راجع کیږی؟ دغه د شرایطو ذکر د نه والی په صورت کې داسې مثال لری لکه په غړ که کې چې مستې نه وی او شربل کیږی، نو خو د به هیڅ کوچې نه کوی.

بل ځای ئې بیا داسې کښلی دی: «په مترقي اوریالیستیك ادب کې باید خبری او نوشته سره یو شانی وی او دا بیا ځکه چې لیك د ژبې عکس دی»

ښاغلی لوستونکی ئې وینی چې دوهم مفهوم ئې پر لومړی باندی بنا کړی دی او له دې څخه داسې ښکاریږی چې نو موږ و «کښې» او «کې» ته د ادب له نقطه نظره ګوری نه د ژبپوهنې له پلوه څخه چې دغه دواړه بیا په ژبه کې بېل موضوعات تشکیلوی. مګر وروستنۍ خبره ئې «دا بیا ځکه چې لیك د ژبې عکس دی.» بیرته په ژبپوهنه ورګډیږی.

دغه خبره ما هم څو پلا مکرره اروېدلې ده چې لیك د ژبې عکس دی مګر ښاغلی دغه هیڅ نه ده واضح کړې چې لیك څرنګه د ژبې عکس؟ خو په دغې جملې دی پسې متصل بیا کاږی: «اوس چې لیك د ژبې عکس سو..»

دغه جمله ډېره درنه او عمیقه ده مګر خورا سپکه او ساده استعمال سوېده. هر څوك چې عمومي لیك د ژبې د عکس و مرحلې ته ورر سوی نو لومړی خو به ئې د سر ورېښتان تو له پرورژیږی او بیا به نو خپله ناکامي اعلان کی. په دنیا کې ډېر مترقي ولسونه او ډېری رسېدلی ژبې سته، خو تر اوسه پوری یو ولس هم ودې مرحلې ته نه دی رسېدلی چې لیك دی ئې د ژبې عکس وی مګر دا خو رشتیاده چې د ځینو ژبو لیکو ډېره سووانی پېښه کړېده، ولی عکس سوی ئې نه دی. په داسې صورت کې نو د پښتو له پاره لاتینی لیك تر عربی لیك تر ډیری اندازې پوری ګټور ثابتیږی.

باید څه نه څه وپوهیږو چې

«پاته په ۱۵ مخ کې»

د بشر فکر

پاته برخه

ربړونه ولیدل او په هره پیړۍ کې دا خدائی مشل تر تور پېڅول لاندې شوی دی. که سړی د فکرې مدوجزر تاریخچه مطالعه کړی نو د ډېرو زړه ویلونکو پېښو سره به مخامخ شی خو ښه به داوی چې دا قضاوت و تاریخ ته پرېښوول شی.

د مطلب څخه یو څه لیرې ولاړم زما د خبرې مخ د فکرې سیراو د فکرې چارو سره ؤ. د بشر فکر د طبیعی نوامیسو سره سم اجتماعی قیدونه له منځه یوړل او د خرافاتو تورې پردې ئې څیرې کړې دغه دی چې د ظلمی پېړۍ د دوهمې برخې په اومړنیو وختو کې خپل مظاهر ښکاره کړی او انسان په خپله د خپل فکر محصول نه د حیرت او اریانتیا په سترګه ګوری. کله د مخکې پر کره به ۹٤ دقیقو کې راخرخی او کله د سپوږمۍ سفر کوی او کله د لمر مدار ته خپلې مصنوعی آلې استوی خو د فضایت رازونه لا انته خرګندکړی. موږ د بشری فکر د ډېر برمختګ په سیوری کې بشپړ باور لرو چې یا د ډېره نژدې زمانه کې به انسان د مادې شیونو

د مذکر جمع پاته ....

مفرد	منحرف مفرد	جمع	منحرفه جمع
لرمون	لرمانه	لرمونونه	لرمونو
نوم	نامه	نومونه	نومو
زنګون	زنګانه	زنګونونه	زنګنو

ج: په دغه کتګوری کې منحرف مفرد کلمات په ځینو نحوی حالاتو کې د جمعی کار ور کوی او اصلی صرفی جمعی نه دی.

مفرد	منحرف مفرد	جمع	منحرفه جمعه
کابلی	کابلي	کابلیان	کابلیانو
دباندنی	دباندني	دباندنیان	دباندنیانو
صحرایی	صحرایي	صحرایان	صحرایانو

د: کله چې د دغې کتګوریو له منحرفو مفردو کلمو سره تر یوه زیات اعداد راوړل سی نو په هغه صورت کې د «ج» د کتګوری خصوصیت غوره کوی.

مفرد	منحرف مفرد	جمع	منحرفه جمعه
لاس	لاسه	لاسونه	لاسو
وطن	وطنه	وطنونه	وطنو
بار	باره	بارونه	بارو

پورته د اصلی او منحرفو، مفردو او جمعو کلماتو مثالونه درورا ندې سول چې دغسې څو نورې کتګورۍ هم جوړوی.

ه: تر دې وروسته چې کمې یا درنې کیږی هغه به ښایی چې د کندهارۍ پښتو له مخې څخه وی، ځکه تر کمه اندې پورې چې زه معلومات او *

ټول حقیقت را ښکاره کړی او د طبیعت د پټو اسرارو څخه به مخ پوټی هیسته کړی، نو څه به داوی چې موږ هم د انسانی فکرو نبوغ ته تسلیم شو او بې ځایه د علم له حقیقت څخه انکار ونکړو، نه یا خپله د فکر روڼا نه مشل دلاسه وغورځوو او نه د نورو کسانو دلاس څخه د فکر مشل په تاراک پوسو

د زمانې آهنګ د اسندره ژغوی چې د فکر کاروان به بېره خپل منزلونه وهی او د حقیقت ورانګې پر ټولې نړۍ خپرې شوی دی. نوای بیدو انسانانو! د فکر ځاهر کلی وکړی او د هغه پیغام ومنی.

فرونه فرونه خوب به ښاځکې او بو د روهی یا رحما به سپل داوښکو بیدار نه شو

* حافظه لرم. ما، شپانه، شکانه کاڼه ... په کندهارۍ پښتو کې د شپون، شکون او کوږ (کفتار) د جمعو په توګه نه دی اورېدلی یعنی جمعې ئې یوازې: شپنیان، شکنیان او کږیان ... راځي.

۶- آلو، آلو بالو، زردالو کچالو، شوتالو غوندې کلمې په کندهارۍ پښتو کې، پخپله د جمعې معناښندې او کله چې ئې مفرد مراد وي نو د [یو] عدد او [دانه] ورسره راوړل کیږي، لکه: د آلو دانه؛ د زردالو دانه ... یا یوه دانه شوتالو، یوه دانه آلو بالو... ما چې هم تراوسه پورې د ځینو نورو لهجو له بعضو کسانو څخه څه اورېدلی دی. دوی وایي چې کچالو مې رانیول، شوتالو مې وخوړل، او داسې مې نه دی تر غوږ سوی چې کچالان مې رانیول او شوتالان مې وخوړل

۷- د مقالې په وروستۍ برخه کې د نومو د مفرد او جمع ښوونه د ډایلوګ په ډول شروع کیږي چې پر دغې ښوونې باندې سر بېره ځینې د پښتو ټولنې غړي او ځینې نور کسان د دوی د نومو یا تخلصو د مفرد او جمعې په ضمن کې هم معرفي سویدي.

زما لیک هم ....

لومړی - لیک چیرې د ژبې عکس شمېرل کېدلای سي او بیا که لیک د ژبې عکس سي نو آیا خواري او مشکلات پېښوي که سووانی؟

۱:- لیک یوازې د ژبپوهانو ترمنځ تنها د دوی په خاصو ژبنیولیکنو کې د ژبې عکس کېدلای سي چې هغه هم بېله دوی څخه نور څوک نه په پوهیږي او که ښاغلی افق مراجعه ورته و کې نو به د ډېرو کلماتو په لیکنه کې هک پک پاته سي او په هنداره کې به؛ نسبت و او سنیولیکنو ته ئې، تر دوو پزو لا هم ډېرې ووینې. څرنګه چې زموږ په مطبوعاتو کې د دغو ژبنیولیکنو له پاره هیڅ توري او نخښې نسته، ځکه ئې نوزه هم کم مثال نسم در کولای.

۲:- کله چې لیک د ژبې عکس سي نو باید دغه خبره داسې ونه ګڼل سي چې سووانی پېښوي بلکه خورا ډېر مشکلات را وړاندې کوي. دا ځکه چې یوه ژبنۍ اجتماع سر بېره پر لهجوي مختلفو وېشنو باندې نور ډېر مختلف طبقات لري یعنی د بزګرو ژبه د کاریګرو له ژبې سره توپیر لري او د دوی هغې بیا د دکاندارانو له ژبې سره فرق لري او هم دغه رنګه د بېکارو، مامورینو، تجارو... دغه شانې هم د ښځمنو، نارینه وو لویانو، کوچنیانو او نورو ترمنځ خورا ډېر ژبنې توپیرونه سته.

سر بېره پر دغو طبقاتي توپیرو باندې، د هرې طبقې په افرادو کې ډېر ژبنې فردي خصوصیات توپیر سره لري او د ژبپوهنې لیک هم خاص د دې له پاره استعمالیږي چې لهجوي، طبقوي او فردي ټوله توپیرونه په ثبت کې او بیا له دغو څخه هغه خصوصیات راوباسي چې د دوی د ډېرو ترمنځ سره مشترک وي او .....

ښه نو! که چیرې لیک د ژبې عکس سي، په هغه صورت کې به خلک یو د بل په لیکنو نه سره پوهیږي یا مګر د جامعې افرادو نور کارونه پرې ایښي او له یوه مخه ټوله ژبپوهان وي. *

* ښاغلی افق یو بل ځای داسی کښلی دی چی: «تاسی غوږ ونیسی چی که زه ووایم ما په هنداره کی وکتل دوې پزی راښکاره سوې نو به حتماً را باندی وخاندی، او که مو ونه خندل نو وپوهیږی چی د [کښی] کلمه تر [کی] درسته ده».

ما خو پخپله د خندا پر ځای باندی افسوس وکړ او دا ځکه چی دغه مثال چی په هنداره کی دوې پزی ښکاریږی، له هغی پیښی سره چی د [کی] په منځ کی [ښ] راځی، هیڅ سر نه خوری او که ئې د دغه مثال پر ځای باندی یو بل داسی مثال راوړی وای چی څه ورسره لګېدای ډېر به ښه وای ولی چی په [کښی] کی خو هیڅ توری یا ږوغی شکل غبرګ یا جوړه یا دوه واره نه دی راغلی مګر ښاغلی افق په هنداره کی دوې، غبرګی یا د جوړه پزی لیدنګ فرضوی. که د دغو پر ځای باندی په هنداره کی خرېیلی برېتونه، بیرته د خولې او پزی ترمنځ ناخرېیلی لیدلی وای، نو یو ښه مثال راتلای سوای، ولی چی پزه به د [کښی] د [ك] په مقابل کی وای خرېیلی برېتونه به د لوېدلی [ښ] چی بیرته راپیدا سوېدی په مقابل کی وای او خوله به د [ی] پر برابری وای.

سر بېره پردې چی څوك په هنداره کی فرضاً د یوې پزی پر ځای دوې پزې وینی او یا خرېیلی برېتونه بیرته راشنه سوی وینی داسی هم پیښیږی چی خپله پزه دی او ږده یا لنډه یا پیته یا کږه ووینی. د دغسی پیښی یو باریك مثال چی د ژبپوهانو ترمنځ تداول لری او یوازی ئې هغه لیك ثبتوی چی کېدلای سی د ژبی عکس دی ورته وویل سی خوزه ئې دلې یوه تشه یا دونه کوم:-

هغه [خ] ږغ چی د [خور] په کلمه کی ئې وایو یو داسی ږوغ PHONEME دی چی له هغی [خ] سره چی د خېټه په کلمه کی ده د ږغپوهنی له مخی څخه ښکاره او ډېر توپیر لری، چی لومړنی ئې دوینګ له مخی څخه [بیرتنی] او وروستنی ئې [د مخنی] [خ] ده. چیری چی لیك د ژبی عکس سی نو دغه راز او یا تر دې لوی لوی توپیرونه خورا ډېر مشکلات پېښوی. مثلاً وماته تر اوسه پوری هیچا د عبدالرازق په نامه صحیح خطاب نه دی کړی او نه ئې دغه نوم درست ادا کړی دی بلکه «ابدول رازیك» یا «اودل رازیك» یا خو «ادرازیك» را ته ویل سوی دی. دغه رنګه په ګرده افغانستان کی هیڅ یو داسی افغان نه سته چی د ستا نوم دی «محمد ظاهر» په غیر شعوری ډول سره درست تلفظ کی بلکه پر ځای باندی ئې «مامدزایر» او که ئې بیخی عامیانه ونه وایی نو به ئې «مهمدزاهر» اداء کی. که واقعاً ښاغلی افق په مترقی اور یالیستیك ادب پسې ګرځېدی لیك ئې د ژبی عکس باله او بیا ئې داسی خبره هم کوله چی: «نو ووایاست چی موجوده ولس څه وکی» اوس نو ښاغلو لوستونکو! تاسی غور او قضاوت وکی، چی د ده د پورتنیو خبرو په نتیجه کی باید د افق کلمه څرنګه ولیکل سی؟

آیا په پښتو کی د «ف» او «ق» ږوغونه یا فونیمونه سته؟ او پښتانه دغه نوم څرنګه وایی؟ یا د ده په قول: «اوس چه لیك

د کندهار وړوکی شاعر اولیکونکی

ښاغلی نجیب ..... نوم ورکی شاعران

داعکس دیوه وړوکی شاعر اولیکونکی ؤ چی پردوولس کلنی توب باندی د نوی سپڼل شوی غوټی په څېر سره مرګ ظالم نامراده کړ. پرته له شاعری څخه ئې د فطری استعداد او خدای ورکړی ذهانت په اثر سره د ژوند په دې لنډه موده کی تراوومه صنفه پوری تحصیل رسولی او هر کال به اول لمبر کېدی. دهغه وخت نائب الحکومه سردار علی شاه خان به په هر مجلس کی دده دښه استعداد ستاینه کوله او له خوندورو منظومو څخه به ئې خوند اخیستی د کابل مجلې د ۱۳۲۰ کال په « » ګڼه کی ئې دغه عکس خپور شوی او پر فطری استعداد باندی ئې د ښاغلی جلالی له طرفه څخه لیکنه هم شوې ده.

د وړوکی شاعر د شعر نمونه.

څوک

د هغه چا به وی څرنګه نېکخواه څوک — چه په ظلم سره اخلی مال له چا څوک
چه ئې سوی وی غلی کړی په خوله دوست وی — د دا رنګ سړی دی نه کیږی آشنا څوک

---

* د ژبی عکس سونو د «اوپوک» کلمه په بېخی ډېرو پښتنو کی رواج ده او په افق ئې نه وایی... نو چه په ژبه ئې اوپوک وایی لازمه ده چی نوشته ئې هم اوپوک راسی ځکه چی لیک د ژبی عکس دی».

په وروسته کی پر ښاغلی پاڼینو باندی هم یو قطعی انتقاد نیسم او هغه دادی چی د کندهار په سبز نی اتمه ګڼه کی ئې د خپلی کره کتنی په دریم شمېره کی کورټ اشتباه کړېده او دده ددغی اشتباه د څرګندولو او اصلاح له پاره به زه وروسته په یوه مناسبه موقع کی اقدام وکم. «دغونه»

چه پخپله وی جاهل بل نه لار ښیی
خدایه مه کړی د چادار نګ رهنما څوك

لاس تنا کی ستړیا ښه ده تر احتیاجه
خدای دی نه کاندی د بل پر در ګدا څوك

د بې علموالد نګانو مل څوك مه شه
له ملتوب څخه بې زده کړی ناروا څوك

د نوموړی وړوکی شاعر پر مرګ باندی ښاغلی عبدالحمید خان «نحیف» د هغه وخت رئیس-ارکان. ښاغلی شیر ګل «کامـوی». ښاغلی عبدالـرؤف «مخلص» او ښاغلی عبدالشکور «رشاد» غـرا مرثیې ویلی او خپل تأثرات ئې څرګند کړی دی چه زه صرف د ښاغلی رشاد د مشر ورور مرثیه ئې د ښاغلی محـمد حلیم سلیمی د [زموږ لیکنی] له چاپی کتابه څخه رانقلومه:-

مابه یودم له ځانه ته نه بېلولای ودوده ګله!
که زه پخوا د تا له مرګه خبر ېدلای ودوده ګله

که زه خبر وای چه دی مرګ تر ما ړومبی دی
د زړه ملهمه

چه د ژوند مزی دی دا هسی څیر نری دی
د زړه ملهمه

مابه نهال د تا په اوښکو او بولای ودوده ګله

که زه خبر وای چه دا هسی نامرادیږی
پر نوی ځوانی

لکی مکی ګل په مرګی نیمه خوا کیږی
پر نوی ځوانی

مابه دی هر قدم پر ستر ګو ایښولای ودوده ګله

که زه خبر وای چه دا هسی ژر بېلتون دی
د ستر ګو تورة

یو واس کاله په دنیا کښی ستا ژوندون دی
د ستر ګو توره

مابه د ننه په کوګل کی ته ساتلای ودوده ګله

که زه خبر وای چه ته بیا نه راجوړېږی
له دغه رنځه

ته د مـرګی د لـوی لاری پر دیسیږی
له دغه رنځه

مابه سهار او ماښام پښې در مچولای ودوده ګله

که زه خبر وای چه لږ اوسې په نړۍ کښی
د زړه ټکره

مابه ته نجتې لکه ګل وای په بګړی کښی
د زړه ټکره

مابه بانو غوندی پر ستر ګو کښېنولای ودوده ګله

که زه خبر وای چه دا هسی ژر خزان دی
زمـا نفسه

له دې وصال سره محبت غم د هجران دی
زمـا نفسه

زه به بوراغوندی پر تا ګل کړېدلای ودوده ګله

که څه خبر وای زه «رشاد» چه نه پاتیږی
ته ځې راڅخه

ارمان زده له دې نا سوته روانیږی
لیږدی راڅخه

مابه دی لاره په بانو چارو کولای ودوده ګله

عبدالحکیم «شیدا»

[ویران]

لکه یو ماهر زرګر چې د ذوق سره سم ښه نفیس د غاړې امپل ښایسته ښکرې، اعلی د غوږ والی او نوره ګېنه په زړه پورې جوړولای سي، همداسې زموږ نازک خیاله شاعر عبدالحکیم «شیدا» د خلکو په فرمایش داسې رنګین غزلیات جوړ کړي او زموږ د خوښې په مجالسو کې د مېړمنو او نجونو له خوا ویل کېږي. دا د فرمایش ترتیب دلته پوازې د ښاغلي «شیدا» په اشعارو کې لیدل کېږي، که چېرې موږ ته یو داسې غزل دده په اثارو کې په مخه راسي چې ددوی د حالې سره ئې تطابق ونه وینو نو باید یوه سو چې هغه ددغه ډول څخه وی کوم چې د یوچا په غوښتنه شاعر ورجوړه کړی وی.

د شعر او ادب نوری برخې ئې چې په ځینو کې ئې اجتماعي بدوی غندلی یا قام ته دسمې لارې ترغیب وی، په ځینو کې ئې د پښتو نوالی افتخارات او ممیزات ستایلی، ځینې ئې بیا پوازې ددوی د حالې څخه حکایت او ډېره برخه ئې غزلیات دي چې موږ په جرائدو کې لوستلي یا مو دده د شاګرد دانو څخه راډیو اورېدلي دي. د ښاغلي شیدا اشعار او اثار ټول منظوم دي او چې زړه ئې غوښتي دي کله کله ئې نثر هم لیکلي دي هغه غزل چې مطلع ئې داده:-

داستا زرین خال او نه په لمن کې که راتوی
شهبازدی پر مخ واړه زلفانی که خوشبوی

محلمیان او د نفیس ذوق څښتنان ئې خورا خوښوی، کله ئې بیا هغه برخه ستایل کیږي چې ته ئې کې هم په ګډې ری لکه دا:-

مخ سپېره په تور و خاور لکه مزه نشوي مور او نه دی ورکه سوله اوزه
یوڅ پر پول په امپور نه ورخه پېلیږي دغران پر خرخ دی وزی ترخوله کړزه

څوک ئې د اشعارو نوری برخې یادوی او دهغه په وجه د نوموړی شاعر درجې تا کې خودا توله ډرلونه ئې په ولس کې خپاره او محافل پې ناوده دي یا په قطعي صورت به ووایو چې ښاغلی شیدا د هر ذوق سره برابر اشعار او ادبیات لری او د ویلو وړ دی.

«شیدا» څوک دی؟:-

ښاغلی عبدالحکیم شیدا د مرحوم غلام محمد زوی د مرحوم میا فتح محمد کاکړ لمسی، په کندهار کې زوکړی او لوی سوی دی د [۷] کلنی څخه د عمر تر ۱۶ کالو پورې ئې په خصوصي توګه د دې ځای د مروج علومو تحصیلات کړي دي، وروسته ئې د ژوندانه د نیاؤ د رفع لپاره وخو کارو ته لاس پورې کړی دی. دا مشغولیتونه چې دده د کسب او

کار دورې تشکیلوی ؛ بزازی؛ عطاری کله بیا
په ځینو موسساتو کی دلیکونکی په حیث ددوی
دتقرر څخه عبارت دی .
اوس چی سن ئې تر ۵۰ کالو بالانه دی دژوندانه
مشکلاتو ډېر نښتېځلی دی چی داخبره زموږ و
ادبی نړۍ ته دخواشینی موجب ده .
ددې خبری په استناد چی وائی: « د ښو اخلاقو او
ښه طبیعت څښتن د ډېرو دوستانو درلونکی وی »
همداسی زموږ دا شاعر په خلکو کی ښه نوم او
احترام لری داځکه چی ښه اخلاق هم په ده کی
دی دښه طبیعت اوورین تندی څښتن هم دی .
داچی د ډېرو خت راهیسی موږ دده یو نوی شعر
نه دی لیدلی وجه ئې داده چی په یوه اوږده ناروغی
دچار اونورهم د ژوند دسرګردانیو سره داسی
مخامخ دی چی ودې خوا ته ئې هیڅ فرصت نه میسر
کېږی، ددوی اشعار په جرائدو کی په زیاته بیا
په طلوع افغان کی خوراډېر موندل کېږی، دا
څو پارچې ئې دنمونې په توګه دمجلې وښاغلو
لوستونکو ته وړاندی کوو:-

دا مستی ده؟

دا مستی ده که بیا نوی لېونتوب دی
دا نشه ده د شرابو که سرکوب دی

دا د شونډو د شربتو مدهوشی ده
که ژوندی مین بیده دمرګ په خوب دی

دا فرنګ دی دطاعون سره ګډ سوی
که ئې ډک جام راڅکلی دمیکروب دی

دا سهی پر کاغذ مه بولیء عالمه !
دشیدا عبدالحکیم دزړه زهوب دی

د مینی اور

جنون می د دنیا و کارو بار ته نه پرېږدی
بلبل می وچمن او لاله زار ته نه پرېږدی

افسوس دی زما پر ژوندوی چه په څه تو که تېرېږی
لټی می وقرار او و فرار ته نه پرېږدی

وحشت می هسی ډېر سوچه ئې عقل کړ رامحوه
افلاس می دښېګڼی و بازار ته نه پرېږدی

حواس می مضمحل سوه په لیدو د بداشکالو
لکنت د کدورت می و ګفتار ته نه پرېږدی

معجون دهمدردی مرض دزړه رایو په دوه کی
علت د بیماری می ومعیار ته نه پرېږدی

پټن غوندی ستی شوم په لمبو د فراقت کښی
اغیار می خپل دمینی وانګار ته نه پرېږدی

« شیدا » یم خوله می پټه ده هیڅ حال نشم ویلای
حاسد دمقاصدو می اظهار ته نه پرېږدی

څه شی ښه ده؟

د بیعقلو تر یاری جدائی ښه ده
د ممسک تر محتاجی ګدائی ښه ده

د بیقدرو په مجلس کی چه ګډون کړم
تر داسی اختلاط تنهائی ښه ده

په ظاهره وی صفا باطن ئې تور وی
مخ دی واوړی دباطن صفائی ښه ده

په درې ورځی هیڅ سړی نه معلومیږی
پسله ډېرو تجربو آشنائی ښه ده

ښاغلی محمد علم [بڅرکی]

د تاریخی واقعاتو معاشی اسباب

د انسان وېره او امید، فرض او امکان او د قول عمل ټوله تړلی دی د هغه نظام سره چی موږ ورته د پیدایښت یا محصول نظام وایو جغرافیائی تقسیمونه او تاریخی واقعات ټوله په معاشی نظامو پوری اړه لری، د انسانی ژوندون لویه حصه تعلق لری په معاشیاتو پوری. دغه رنګه د زمانې خیال او فلسفه د هغه وخت د معاشیاتو نتیجه ده.

که موږ د تاریخ د نورو ارتقائی نظریو څخه صرف نظر وکړو بیا هم د دې څخه سترګی نه سوای پټولای چی د ارتقا لوړ عوامل، د پیدایښت اسباب، د کار تقسیم او تبادله ده. دغه اسباب د انسانانو افکار ارادی، او خواهشات جوړوی. د پیدایښت یا محصول په تنظیم سره انسانان یوله بله سره ګډیږی، په دوی کی مجلسی سیاسی، اخلاقی او تمدنی روابط ترتیب کیږی. نو پدې توګه که موږ غواړو چی د یوه خاص مملکت سیاسی، اخلاقی او مدنی وضعیت معلوم کړو، نو تر ټولو لومړی زموږ نظر و تنظیم ته د محصولاتو وراوړی د پیدایښت پدغه تقسیم سره اجتماع په ټولو یو وېشل کیږی. انسان نسوای کولای چی د خپلو خواهشاتو مطابق خپل نظریات واړوی، بلکه د ده نظریات د ذرائع پیدایښت په وجه تغیر پیدا کوی هیرلډلاسکی پدې باره کی لیکی:-

چی حقوق، عدل، آزادی او مساوات ټوله د پیدایښت په ذرائعو پوری اړه لری، په یوه نظام کی د پیدایښت سړی فقط د دې آرزو او مطالبه لری، چی ماته دی پر سړک د تګ اجازه راکړه سی. مګر کوم وخت چی دا نظام بدل سی، نو دغه انسان دعوه کوی چی حقوقی قانون باید جوړ سی، په یوه وخت کی انسان په ټوله کال کی فقط لس ورځی رخصتی ځان ته غواړی. خو کوم وخت چی نظام د پیدایښت تغیر پیدا کی هغه انسان مطالبه کوی چی مزدوران باید روزانه اته ساعت کار وکی.

د قدیم مصر غلامان چی د اهرام په جوړولو کی به شپه او ورځ بوخت وه. ولی ئې داسی مطالبی نسوای وړاندی کولای لکه نن ورځ چی ئې د انګلستان

چټل کاره پېشینی که څه د ښار وی
تر دې خړه پښتنه صحرائی ښه ده
ړوند حریص چه وظیفه ئې سلا پوروی
تر ده زر ځله د شل بینائی ښه ده

چه د بل دنیا په لاس وی ورغلی
زما په نزد د دوو تنګو دارائی ښه ده
پر هر غوږ مه سه شیدا عبدالحکیمه!
پر محبوب حقیقی شیدائی ښه ده

مزدوران وړاندی کوی .
ایشائی مزدوران دارو پائی او امریکائی مزدورانو په شان ولی خپلی مطالبې نسوای وړاندی کولای .
ښکاره خبره ده چی په مختلفو پیدائشی نظامو کی د حقوقو مطالبات هم مختلف وی، د شوروی اتحاد د مزدورانو مطالبې یا غوښتنی د نورو ممالکو د مزدورانو څخه باید نو پیر واری کله انسان فقط په بازار کی د لڅ سر په تېرېدو اکتفا کوی، خو کوم وخت چی د نظام پیدائشی ډول تغیر پیدا کی هغه وخت د تحریر او تقریر کولو مطالبه وړاندی کوی .
په یوه نظام کی فقط دورونو و حق ته مساوات ویل کیږی، خو چی نظام د پیدائش واوړی هغه وخت معاشی مساواتو مطالبه کیږی .
فیور باخ وایی: چی د انسان وجود، انسانی شعور او احساس راویښوی . لیکن مارکس معتقد دی چی انسانی شعور د طبیعی ماحول څخه پیدا کیږی او اجتماعی ماحول د ذهنی ارتقاء څخه په وجود راځی یعنی انسانی شعور د موجوده هغه ماحول پیدایش دی، چی په کوم کی هغه خپله ګذاره او معاش پیدا کوی .
دا ښکاره خبره ده چی په مختلفو زمانو کی د معاش پیدا کولو طریقې مختلفی وی، دغه وجه ده چی په مختلفو زمانو کی د انسان خیالات او نصب العین هم تغیر او تبدیل پیدا کړیدی د خیالاتو دغه تبدل پر اخلاقو خپل تاثیر اچوی ځکه نو عملی اخلاق په مجلسی ماحول کی تغیر پیدا کوی؛ ګویا په مختصر صورت سره موږ داسی ویلای شو چی د ژوندون بنیادی اصول، راست بازی او نیکی نه ده بلکه محض تبدیلی ده . که پدې نظریه باندی د تاریخ مطالعه وسی، نو به معلوم سی چی د انسان په طبیعت کی تغیر پیدا کېدونکی قوت موجود دی . جمود هیڅکله ژوندی انسان نه خوښوی نو کوم وخت چی د انسان مجلسی حالات بدلیږی طبیعی امر دی چی فطرت د انسان هم ورسره الیش کیږی څرنګه چی بدلون د اجتماع طبیعی خاصه ده . پدې قانون اخلاقی قوانین هیڅکله جامد او بې نظیره نسوای پاته کېدای نو پردې اساس باندی کوم وخت چی اخلاقی قوانین د کومی اجتماع په ګټه جوړیږی هغه د ګرد عمر د پاره مفید نسوای کیدلای د تاریخ د مادی نظرئې په شان کارل مارکس پر اخلاقو ځانته بېله نظریه قایمه کړېده څوک چی پر علم پوره عبورونه لری، ګمان کوی، چی مارکس د اخلاقو وهیڅ وجود ته قائل ندی، حالانکه کارل مارکس دا موضوع د اخلاقو د مابعد الطبیعیاتو څخه جلا کړېده .
مارکسیست د اخلاقو مقصد د بشر مفاد ګڼی، دا رنګه اخلاق چی فقط د یوی مخصوصی طبقې حقوق ساتی، هغه د انسانیت د پاره مضر ګڼی .
دغه سبب دی، چی کارل مارکس داسی قوانین د اخلاقو نه منی چی هغه ثابت او د ټولو ډلو د پاره یو شانته فائده ونلری، دا قسم اخلاقی قوانین چی د یوې او یا څو ډلو حقوق په نظر کی نیول سوی وی، هغه کارل مارکس نه منی او واجتماع ته د هغه د ورکېدو هدایت ورکوی مارکسیست هڅه کوی چی

داسی قوانین وضع کی چی و
ټوله بشریت ته یو ډول ګټه
ورسوی. کارل مارکس د زړو
اخلاقو ځکه مخالف وو چی ده
هغه قوانین د ټولو ډلو دپاره
یو شانته مفید نه بالل.

ځینی کسان فکر کوی چی
مارکس قطعاً د اخلاقیاتو قائل
ندی. حالانکه دی د عمومی
اخلاقو د قوانینو جوړونکی
دی. د داسی اخلاقو چی د هغه
حفاظت د بشریت پر ټولو طبقو
لازم دی. [پای]

ښاغلی وروره کرزی صاحب!
د «تاریخ څه شی دی؟» تر عنوان
لاندی کوم سلسله مضامین چی
زما د کندهار په مجله کی نشر
سوه دادی پر ۱۱۲ صفحه پای
ته ورسیده.

مګر د نشر یدو په حصه کی چی
ئی لویه اشتباه سویده هغه داده
چی دا مضامین د ابتداء څخه
بیا تر آخره پوری زما خپل اثر
ندی بلکه د خارجی منابعو څخه
ترجمه ده. حالانکه په د مخنیو
مجلو کی زما د نامه سره د
ترجمی نوم ندی ورسره لیکل
سوی، ځکه نو هیله کوم چی په
آخره کی د یوه نوټ په صورت
ورسره نشر سی چی دا نوشته
ټوله ترجمه وه. په درناوی

تاج محل ته
ویران

د اګری سپین تاج محله — د هنر ښکلی سمپله
مهارت د معماری ئی — یو تمثال د شهکاری ئی
ښکلی پېغله د تعمیر ئی — په جهان کی بی نظیر ئی
هر یو ځای دی تماشه دی — هند په تا ډېر ښایسته دی
دا چی ته باندی بنا ئی — تر هغی خو ډېر بالا ئی

د ایشیا سپینه نجلی ئی
ښایسته ئی ګلالی ئی

د شاهی مینی مظهره — د عیسی «۱» دلاس ثمره
نتیجه د یو لوی غم ئی — موجود کړی یو ماتم ئی
پر پاچا چی عاشوره سوه — جوړه ستا ښه منظره سوه
د مانیو د سر تاجه — غمزده زړه ته علاجه
شاه جهان د عشق معیار ئی — دا چی نن ستر یادګار ئی

د ښکلاؤ مجموعه ئی
د ګلانو ښه دسته ئی

د جمنا د رود پر غاړه — په لوئی ده ستا ولاړه
جمنا مار دی کوزؤز تللی — تی غمی تر خوله لوېدلی

«۱» عیسی افندی هغه نامتو مهندس دی چی تاج محل دده په نخشه جوړ سو.

چې په هند کې لمر حضور وي — دوړانګو ئې پر تاشور وي
او چې هم د بدر شپه وي — ستا عجبه تماشه وي
عاشقان پر تا تو لیږي — په سپوږمۍ کې در بهیږي

دوی سپوږمۍ ته سره ګوري
هغه محوه ستا پر لوري

دا نسان ستر ګی سوی سپینی — کې تر ستر ګو راسی وینی
چې فقط ستا مثال غواړي — جوړه ستا د جمال غواړي
دا تلاښ ئې هدر تللی — ټول کوښښ ئې دی بایللی
ورک سوه ډېر یادګارونه — د انسان د لاس کارونه
حوادثو چې وران نکړي — او پایماله دوران نکړي

یو سبب دی سنګینی ده
بل سبب دی رنګینی ده

سنګارونه، جمالونه — دلبران ؤ ښه مخونه
د جهانه څخه ولاړه — لیکن ته په هسکه غاړه
د ژوندون یو ادامه ئې — که څه هم یو هدیره ئې
د قرنو استقامت ستا — چې وجود دی سلامت ستا
د پوخ والی برکت دی — انسانانو ته عبرت دی

هر پوخ کار نه خرابیږي
دا لتا څه معلومیږي

نه چې تا شاعران ستائی — ټول بشر دی صفت وائی
یوې ښځې په بیان کی — دا ویلی ستا په شان کی
که پر ما چیری بنا سی — او بنا داسی ښکلا سی
زه به ځان مړه کم پخپله — چې پیدا سی یوه بله
دا پدې چې هم زیبائي — رنګینه ئې او صفائي

دا جهان به ډېر خراب وی
ستا به دغه آب ؤ تاب وی

د کل شی الدنیا له عربی
مجلې څخه د سړبن ترجمه

ترجمال او حسن

پوری ئې د طاوس

ستر تخت هیڅ وباله

داخو وهرچا ته معلومه ده چې په ظلم او بې رحمی کی پله چنګیز، تیمور او هلاکو څخه نادر افشار زیات شهرت لری وائی: کله چې ئې پر هند یرغل وکړ او په ۱۷۳۹ کال کی ئې د ډیلی ښکلی ښار د ولجو په غرض سره لوټ کړ نو د نورو غنایمو په ترڅ کی ئې د طاوس مشهوره تخت هم اصفهان ته یووړ ددې تخت پایې د هند له قیمتی جواهرو او مشهورو الماسو څخه جوړی شوی وې نور ځایونه ئې ګرده نګین نښانه او یا د سرو زرو په نقش سره او نګار سره ښکلی وه.

د هند ګرده خلک له یوې خوا څخه په لوټیدلو او له بلی خوا څخه د نوموړی تخت په وړولو سره زښت ډېر خواشینی وه په کوڅو، بازارو حتی معبدو کی به ئې ناري وهلې چې:*

*[نادر دی د طاوس تخت
را کړی موږ تر ګردو شیانو تېر
یو] د دوی دې تشوا خطارو پر
هغه زړه سختی باندی کوم اثر
نه کاوه او بېله مقاومت څخه
ئې داخیستو هیڅ امکان نه ؤ
تولو د افسوس پوټی او ښکی
تو یولې خو د عمل وډګر ته غیر
له یوې ښکلی پیړ مخی پېغلی څخه
په په ګرده ملك کی څوك حاضر
نشو او دا سو به هغه چا تر سره
کړه چی هیڅ امید نه ورته
کېدی .
امینه د پخوانی مغلی پاچا لوروه
چی دا کا له زویه سره اصفهان
ته د پلار د کسات اخیستو او د
طاوس د تخت د قیمتی جواهراتو
راوړلو په غرض سره ولاړه هلته
ئې د [اسواق الرقیق] د
مینځیانو او مریانو په صف کی
و رانیونکو ته د ځان د خرڅلاو
وضعیت ښکاره کاوه د جمعیت
هر سړی ئې د ژر رانیولو تلاښ
در لودې خو دا کا زوی به ئې
په جواب کی ویله: تاسی خو شی
ډکی مه وهیء ما دا مینځه د
ټولواك په نیت سره له هنده
څخه راوستلی ده نه ئې پر بل چا
خرڅو مه او نه دی اضافه تر دې
څوك د رانیولو اصرار کوی .
پسله څو ورځو څخه د دې کیفیت
اوازه د پاچا و دربار ته ورسېدله
او یو درباری تر نورو درباریانو
د مخه و اسواق الرقیق یعنی د
مریانو او منځیانو د خرڅولو
و ځای ته ځان را ورساوه او
کرار ئې د هغه ذکر سوی بایع
په غوږ کی وویله: ځوانه پر دې
ښکلی پېغلی باندی دی څو
بیه ایښی ده ؟
ځوان: زه ئې په پیسو نه
خرڅو مه وګران ټولواك ته ئې
د هغو نیکیو په بدله کی چی ده
زموږ له خاندانه سره کړی
دی بخښمه پاك خدای دی
و کړی چی پخپل کرم سره می
دا ناچیزه هدیه قبوله او د حرم
د جارو کښانو افتخار ورو بخښی
که څه هم دا چی تاسی ئې مینځه
بولی زما د زړه ټوټه او ګرانه
لور ده مګر زه ئې تر خپل محترم
قایده پوری چی دوینی او ذات
شراکت ورسره لرمه هیڅ نه
ګڼمه فقط د ده و دیدار او د دې
امانت ور تسلیمولو ته راغلی یم
نو که ستا په وساطت سره می دا
مقصد تر سره شی تر ابدالابده
پوری به دی د احسان ممنون یم .
وائی: هغه درباری تر نورو
درباریانو د مخه د خپل عزت او
قرب د زیاتوالی په ملحوظ دا
خبر ژر تر پاچا پوری ورساوه
او د زیات توصیف او تعریف
کولو په اثر سره ئې د هغه زړه
بېتابه کړ دستی له لوړ حضوره
څخه امر وشو چی نجلۍ دی
مستوره تر حرم پوری ورسول
شی او پلار دی را حاضر کړه شی
چی زه پسله تشکر څخه د زحمتو
او تکلیفو ګاللو په بدله کی څه
ور کړم دربار لا نه ؤ ختم شوی
او شاه لا حرم ته نه ؤ ستون شوی
چی دا امر پر ځای شو . مطلب
دا دی چی په حرم کی د ننه امینی
له یوه طرف څخه د خپل حسن
و ملاحت او له بله طرفه څخه د
ښه اخلاق او ښه سلوك په سبب
سره د پاچا زړه لاس ته راوستی
او د ټوله شاهي حرم مشره شوه
د جواهراتو د صندوخانو او د
خزانو د کلیو اختیار و دې ته
ور کړه شو هر څه چی به ئې
کوله او هر امر چی به ئې کاوه
ژر به پر ځای راوړه کېدی چا
نې نشوای پکښی ویلای .
په ټوله ښار کی ئې د ملکه کېدو
ټینګه اوازه د مخه تر نکاح

تړلو لاخپره شوی وه او شیخ-
الشیوخ قاضی [والدانی] پوه
شوی ؤ چی شاه د امینی د ښکلا
او حسن په دام کی داسی گیر
شویدی چی نه ئې یوازی د
ملکه توب عزت ور بخښلی دی
حتی د ټوله فارس حاکمه کړی
ئې ده .

رشتیا هم ددې هر امر نافذ او د
سپینی مانی د گردو قیمتی
جواهراتو ساتونکی وه د شاه
ستړیا به ددې په خوږو نغمو
او شیرینو خبرو سره لیری کېدله
مگر سره له هومره گرانښته د
طاوس د تخت په لیدنه سره نه وه
بریالی شوی او هغه ارمان ئې
نه ؤ تر سره شوی چی دی له
هندوستانه څخه له ځانه سره
راوړی ؤ. د خدای کړه وه پسله
ډېری مودې څخه ئې یوه ورځ د
نوموړی تخت د زیارت کولو
خواهش بداسی حال کی ومنل
شو چی نادر دا د خپل محبت په
بغل کی نیولی او وحسن وجمال
ته ئې مبهوت نللی ؤ ددې عشق او
محبت د لمبې په اثر سره ئې د طاوس
د تخت گرانښت پر مخ هېر شو
او سمدستی د هغه تخت وخونی
ته ور سره ولاړ، پسله توضیحاتو
څخه ئې د ټوکو په ډول سره
ورته وویله: گرانی امینې دا
تخت ښکلی دی که ته؟

څو ورځی پس د فارس په یوه
ولایت کی لږ څه بد امنی پېښه
شوه او شاه هغه ځای ته د
ارامولو په غرض سره د تگ
نیت وکړ امینی به په تصنعی
ژړا سره دی له تگ څخه منع
کاوه او غوښته ئې چی پدې
صورت سره خپله وفاداری وده
ته په اثبات ورسوی او په یوه
چم سره د چمو د هغه تخت د
خونی کلی ځنی لاس ته کړی
ساده نادر چی غیر له وینو تویولو
او چورو چپاو څخه په بل شی
کی ماهر نه ؤ دی مگر وچل ژر
وغولاوه او د ټولو مالو او اسبابو
کلی ئې ودې ته تسلیم کړی
سمدستی د مقصد و لور ته
روان شو .

پدې وخت کی امینې په خورا
بیغمی سره د نوموړی تخت گرده
جواهرات او الماسونه د خپل
اکا د زوی په لاس سره وهندته
ولېږل او کوم د ښې شی ئې پر
پرې نه ښووی څو ورځی پس ئې
یو ښکلی زوی او د ایران د تخت
وارث پیدا شو چی په شکرانه
کی ئې خورا ډېر خیراتونه
وشوه بل د نادر خوشالی د
زوی په زېږیدلو او د فتح په
حاصلیدلو سره دوچنده شوه ژر
و اصفهان ته ستون شو او څو
ورځی ئې د خوښی مسلسل
جشنونه برپایه کړه، له هری
خوا څخه د مبارکی پیغامونه
ورته راغله .

پدی مابین کی ښې ډېری ورځی
تیری شوی او څه دردو بایدی
چی وی هغه پای ته ورسېدلې
نو امینې په اوښلنو ستر گو سره
د طاوس د تخت د خونی د کلی
دور کېدو عرض ولوړ حضور ته
وکړ . شاه له قهره څخه
سور وشین شو دستی ئې د
هغی خونی دروازه ماته کړه
او تخت ئې په هغه وران حالت
سره ولیدی د امینې د اکا
د زوی په تېښته سره هم خبر
شو او دا پوره ورته مدلله
شوه چی دا کار بېله دې څخه
بل چا ندی کړی دستی
کور ته راغی او د خپلی هغی
گرانی معشوقې سینه ئې په
تېره خنجر سره سوری، سوری
کړه .

پېغله عزیزه رشاد

والنتینا گاگانووا

د کار او زحمت کښلو سره د دې ټینګې علاقې او اعتماد دلټۍ او سستۍ ریښې ور کښلی دی او د دې په نظر کې ګرد سره دارادې او عقیدې تزلزل معنی نه لري، له دې کبله به ئې په هره څانګه کې چې قدم ایښووی په یوه حیرت ناکه ډول سره به ئې د هغې برخې تولیدات ډېر بدل بزی او پرمختګ به ئې حتمي ؤ.

والیا په ۱۹۳۲ ع کې د اسپیرو په کلي کې په یوه کاریګره کورنۍ کې نړۍ ته راغله. کله چې جنګ شروع شو د ګاګانووا کورنۍ هم د جنګ د زحمتو، کړاؤ، محرومیتو او مشکلاتو څخه بې برخې پاته نه سوله.

په ۱۹۴۲ ع کې د والیا پلار د رژوف د سیمې په جګړه کې ووژل شو مور ئې د پنځو وړو کو سره پاته شوله چې ها غټه لور ئې یعنې لیوشا په هغه وخت کې ۱۲ کلنی او والیا لس کلنی وه.

د والیا مور د خپل ژوند د پرمخ بېولو د پاره په یوه کلخوز کې کار کوی. لیوشا د زده کړې د پاره په یوه مسلکي ښوونځي کې وکالنین ته ولاړه او والیا یعنې د کورنۍ غټه غړی د وړو کو پاملرنه، د اوبو او لرګو راوړل او د غواؤ کتل پرغاړه واخستل. لدې کبله د والیا تعلیمات لکه څرنګه چې دې غوښتل بشپړ نه سول او دا بریالۍ نه سوله چې هغه شیان زده کړی کوم چې دې ئې هیله درلوده.

په ۱۹۴۸ کې والیا د کار زده کونکې په حیث د ورېشلو کارخانې ته داخله سوه. په لومړی سر کې که څه هم د ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوله ولې په اخیره کې د دې ټینګې ارادې بدې کار کې دا بریالی کړله او د ځوانانو د ډلې لارښوونه ئې پرغاړه واخسته.

همکارانو ئې د والیا سره ډېره علاقه درلوده ځکه چې دا ساده بانشاطه نجلۍ د خپلو انډیوالانو سره ډېره صمیمي وه چې تولو په سختو ګړیو کې دې ته مراجعه کوله.

کله چې د کار د لوړ بېولو او د ماشین د کار د نصاب په باره کې نهضت مینځ ته راغلی دی نجلۍ په طلائي او ډلو وېښتانو او د چیټ په ساده کمیسه سره په ټینګ فعالیت پیل وکړ.

په لږ وخت کې د ګاګانووا تر لاس لاندې ډلې په پرمخ تللو ډلو کې لومړی مقام لاس ته وروستی حتی د کارخانې سابقه داره او پخوانی کاریګران به هم والیا ته راتلل چې د دې څخه تجربې زده کړی.

دوالیا څانګې دورېشلو په برخه کې بېخي تر تصور لوړ پرمختګ وکړې په دې وخت کې والیا یو عجب تصمیم ونیوی او د نورو کاریګرانو د مرستې د پاره و وروسته پاته ډلې ته داخله سوه ځکه چه دی فعالې کاریګرې غوښتل په عمومي صورت سره دورېشلو د ټولو ډلو تولیدات ډېر سي .

د هرې څاڅکې د پرمختګ سبب چې والیا به کار پکښې کاوه ؛ داؤ چې ګاګانووا تر هر شي د مخه و کار او انسان ته ژوره عقیده او اعتمادلري او وائي چې د تشویق او ترغیب په اثر سره کېدلای شي چې هر څوک دې فعال کړه سي او دا عقیده تل د دې سره مرسته کوي چې د کاریګرانو د پاره سمه لار غوره کړې ده .

ګاګانووا تل په صمیمیت سره خپلو اندیوالو نجونو ته لارښوونه کول والیا چې به هرې دستګاته ورتلله د ډېرو نواقصو سره به مخامخ کېدله او په ښه ډول به ئې ټولې نیمګړتیاوې لیرې کولې .

دا د یو کار پرمختګ په ښه خوښ محیط او مباحثه ؤ مذاکره کې بولي او هره ورځ د خپلو همکارانو سره مذاکره کوي او د دوی مشکلات حل کوي .

پدې ډول په هماغه لومړي هفته کې د دې د څانګې تولیدات په بېخي قابل توجه ډول ډېروالي مومي .

دې حرفه ئې ښوونځي بشپړ کړی دی او په ټوله معنی یوه کامله او لایقه کاریګره ده .

هره ډله چې د والیا تر نظر لاندې مخ ته ځي . هغه ډله خپلو مرستیالو ته پرېږدي او وروسته پاته ډلې ته ورځي . دې ټولې ډلې په یوه صمیمي محیط کې په مسابقه کې سره اچولي دي .

والیا عزم لري چې خپل دې کار ته ادامه پسې ورکړي .

ځکه دوړو کې له درلوولو سره نسي کولای چې تحصیلاتو ته ادامه پسې ورکړي او دا کار ئې د بلې موقع د پاره پرې ایښې دی .

دا قهرمانه او ځوانه ورېشونکي په خپل کار کې په ښه ډول د تقدیر او ستاینې مورد ګرځېدلې ده .

په ۱۹۵۹ کې د شوروي اتحاد رئیسه هیئت د دې لوړو خدمتو او د شوروي ټولنې و ګټو ته د فداکاریو په مقابل کې چې په داوطلبانه ډول د پرمخ تللې ډلې څخه وروسته پاتې ډلې ته ځي او د دې د برجسته ابتکارو څخه د تقدیر د پاره چې د کار د نهضت د پاره ئې لوی کار کړی دی . د رئیسه هیئت د فرمان سره سم مېرمن والنتینا ګاګانووا د نساجي د کمبینات ورېشلو د کارخانې د ډلې مشرې ته د سوسیالستي کار د قهرمانۍ عنوان ورکول شوی دی .

د عمرزی ژباړه
اولیکنه

ژوند د مختلفو خلکو په عقیده

پښتانه وائی: ژوند [پنځه ورځی] دی .
برنارډ شاو د انګلستان نامتو لیکوال وائی [وړانګه] ده .
نابلیون وائی [کلا] ده .
هنلی د انګلستان یو نقاد وائی [دود] دی .
قولا کالارون د هسپانیی شاعر او نور ختیځ وال وائی [خوب و خیال] دی .
اسوپف د ایرلینډ مشهور نکل لیکونکی وائی [یو د خواشینۍ نندارتون] دی .
ریچارډ برتون د تانګانیکا کاشف وائی: [زینه] ده .
شیخ سعدی وائی [واوره] ده .
اندسن د ډنمارک لیکوال او د دنیا نور ډېر خلک وائی چی: [افسانه] ده .

د ژوند په باره کی څو نور نظریات او متلونه :-

ژوند هغه ګل دی چی بې لاس وهلو حزانیږی .
ژوند لکه کوچنیوالی داسی دی تر څو چی بیده نسی باید زانګو ئې وزنګول سی .
ژوند لکه ناتراشه ډېره چی سړی وغواړی هر ډول شکل ورکی ورکولای ئې سی .
ژوند هغه وخت خپل مفهوم بایلی که هنر نه وی ورسره ملګری .
ژوند چی خوږدی د مرګ د بیری .
ژوند د کوچنیو شیانو مجموعه ده .

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR A.M-KARZI

DECEMBER 32, 1961

GOVERNMENTAL PRESS